نړیوال بانک
له بې وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

**خبري خپرونه**

| | |
|---|---|
| اړیکي:<br>نړیوال بانک په کابل کی: عبدالرووف ضیا ۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)<br>Azia@worldbank.org<br>نړیوال بانک په واشنګتن کی: اریك نورا ۴۵۸۴۷۳۵ (۲۰۲)<br>enora@worldbank.org | شمېره: SAR |

## د نړیوال بانك راپور وايي:
## د عامه اداري اغېزمنتیا د افغانستان خلکو ته د خدمتونو برابرولو لپاره مهمه ده

د « دویم ملکي خدمتونه» د دولت د حاکمیت د ښویدلو لامل ګرځي

**کابل، د جون د میاشتي ۱۶مه، ۲۰۰۸کال:** په هغه راپور کې چې د نړیوال بانك له خوا د جون په لسمه نېټه د پاریس په ښار کې خپور شو، یادونه شوې ده چې د پراختیایي چارو د اجرا لپاره لوی عوامل دادي چې یو اغېزمن او د امنیت ټینګولو او خلکو ته د خدمتونو برابرولو جوګه دولت جوړ شي او حکومت خلکو ته حساب ورکړي.

په دې راپور کې چې د جون په ۱۲ مه نېټه د افغانستان لپاره د پاریس کنفرانس څخه وړاندې د « **اغېزمن دولت جوړښت: په افغانستان کې د عامه اداري د اصلاحاتو لمړیتوبونه** » تر عنوان لاندې خپور شو، غوښتنه شوې چې د دولت هغه دندې چې تر اوسه پورې د نړیوالي ټولنې له خوا تر سره کیږي او یا تر اوسه نه ترسره کیږي د افغانستان دولت ته وسپارل شي ترڅو د هغه هېواد مؤسسې پیاوړې شي. په راپور کې دا منل شوې ده چې عامه اصلاحات حتی په ښو شرایطو کې ګران کار دی او په افغانستان کې تر ټولو زیاتې ستونزې لري ځکه د واك نا رسمي اړیکې ډېرې زورورې دي، د دولت رسمي سیستمونه لاتراوسه د بیا رغونې اړتیا لري او د هېواد ځینې برخې نا امنه دي.

*« دا مهمه ده چې په اوږد مهاله موده کې د یوه اغېزمن دولت د جوړښت په لاره کې ثابت او کوټلي ګامونه واخستل شي ترڅو داسې دولت چې وکولای شي په تدریجي توګه د افغانستان د راتلونکي لا زیات مسؤولیت د وخت په تېریدو سره په غاړه واخلي، منځ ته راشي.»* دا مطلب **الاستیر مککني چې د زیانمنونکو او جګړه ځپلو هېوادونو لپاره د نړیوال بانك مشر دی**، څرګند کړ او زیاته یې کړه چې « *هغه ننګونه چې د نړیوالې ټولنې او دولت دواړو لپاره شته ده هغه داده چې په متوازنه توګه له یوې خوا افغانانو ته د خدمتونو د ښې رسونې په لاره کې په چټکتیا سره نوښتونه پکار واچول شي او په همدې ترڅ کې د هېواد ظرفیت ته په تدریجي توګه وده ورکړل شي ترڅو دولت وکولای شي پرته لدې چې زیات شمېر بهرنیو متخصصینو ته اړتیا ولري خدمتونه وړاندې کړي*.»

په دې راپور کې څرګنده شوې ده چې هغه سلاکاران او کار کوونکي چې خپل معاشونه له بهر څخه لاس ته راوړي او ډېری یې د دولت له خوا نه څارل کیږي یا یې لږه څارنه کیږي، اوس د ملکي خدمتونو سره د یوه موازي دویم جوړښت حیثیت لري«**دویم ملکی خدمتونه**». دا حالت ځکه را منځ ته شوی دی چې پر بهرنیو مرستو زیاته ویسا کیږي. په ۲۰۰۶/۲۰۰۷ کال کې نړیوالې ټولنې له ۴ میلیارډه ډالرو څخه زیاته پرمختیایي مرسته برابره کړه چې د هېواد د کورنیو عوایدو په پرتله کابو ۷ ځلې زیاته وه. له دې څخه لوی زیان هغه وخت را منځ ته شو چې د نوموړو مرستو په درېیو کې دوه برخې د دولت د بودیجې څخه بهر ترسره شوې چې د دولت په بودیجه یې د ډاډ نشتون ته یې پراختیا ورکړه او په پرمختیایي آجنډا یې د

دولت صلاحیت او کنټرول ته کمښت وریه برخه کړ. دا د ملکي خدمتونو دویم جوړښت ددې لامل شول چې یو زیات شمېر تکړه کارکوونکي د دولت له لیکو څخه ووځي او د پوه کارکوونکو د معاشونو لګښتونه ډېر والی ومومي.

ښاغلي مککني زیاته کړه چې *«دا یوه ګرانه چاره ده چې دولت وکولای شي د پرمختیایي چارو مسؤولیت په غاړه واخلي ځکه دولت ډېر لږې سرچینې لري چې دا پخپله د یوه ورو او حساب ورکوونکي دولت د جوړېدو په لاره کې د ځنډ لامل ګرځي. د تجربو خاوندانو کارکوونکو څخه د جوړو شوو دولتي ارګانونو منځ ته راتګ، په سم وخت د کارمندانو د تنخواه ګانو ورکول، د دندو په هکله د مسؤولیت احساس او ټولو هېواد والو ته د یوشان خدمتونو رسونه د افغانستان په بیا جوړونه کې یو اساسي رکن جوړوي.»*

په یاد شوي راپور کې یادونه شوې ده چې یوه اغېزمنه عامه اداره هغه اداره ده چې اساسي دندو لکه د قانون او عامه نظم ټینګښت ته خپله پاملرنه واړوي او د خصوصي سکټور، مدني ټولنې او سیمه اییزو پنډغالیو څخه د دولت تمویل وړ خدمتونو د ترسره کولو لپاره کار واخلي. دا راپور په وروستیو کلونو کې ددې میتود له بریالیتوب څخه یادونه کوي. د بېلګې په توګه د روغتیا په سکتور کې د نا حکومتي مؤسسو سره د روغتیایي قراردادونو تړل ددې لامل شوه چې د هغه کسانو شمېره چې روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی لري د ۶ میلیونو کسانو په کچه زیاته شي. دا مثبت عناصر باید تر هغې پورې دوام وکړي تر څو چې دولت خپل ظرفیت ته په تدریجي توګه پراختیا ورکوي.

په راپور کې څرګنده شوې ده چې د دولت د ظرفیت پراختیا لپاره پکار ده چې د ملکي خدمتونو یوه داسې اداره جوړه شي چې اغېزمنتیا ولري او وکولای شي بسپنه ورکوونکو مرستندویانو ته ډاډ ورکړي چې د هغوی مالي مرستې په سمه توګه لګول کیږي. مهمه خو داده چې دا کار په ټول هېواد کې د دولت اعتبار زیاتوي. که چېرې د هېواد وګړي ونه ویني چې د ملکي خدمتونو کارکوونکي د خلکو ګټې تر خپلو شخصي ګټو اوچتې بولي، نو خلك به په دولت اعتماد ونکړي. یو مهم لمړیتوب دادی چې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو توان اوچت شي. په دې هکله د افغانستان پارلمان په تېره میاشت کې د دولت د ټولو کارکوونکو لپاره اوچت معاشونه تصویب کړل.

" *د تنخواه ګانو د ډېرښت څخه موخه داده چې دولتي کارکوونکي وهڅول شي او له لاسه ونه وځي.* " دا مطلب **رانجانا مکرجي، چې د عامه ادارې په چارو کې د نړیوال بانك کارپوهه ده،** څرګند کړ او زیاته یې کړه چې " د تنخواه ګانو ډېرښت باید یواځې په زیاتو پیسو پورې تړاو ونلري بلکه د ټاکل شویو دندو او د وړتیا او لیاقت په پام کې نیولو سره باید د دولت د چارو د ښې اجرا او خدمتونو د ښې برابرونې لپاره ترسره شي. . ددې ترڅنګ پکار ده چې د خدمتونو د برابرولو اړوند نور اصلاحات لکه د اهلیت او وړتیا پر بنسټ استخدام باید ترسره شي ترڅو د دولت اجراات او خدمتونه ښه توب ومومي."

همدارنګه دا راپور خبرتیا ورکوي چې په کابل کې تر حد زیاته بیروکراسي راغونډه شوې ده. نن افغانستان د نړۍ هغه هېوادونو له ډلې څخه دی چې دولت یې تر ټولو زیات مرکزیت لري او د ملکي خدمتونو تشکیلات په سلو کې **۴۴** په کابل کې دي چې مالي بسپنې په مرکز کې راټولې شوې او د ولایتونو بودیجې په کابل کې ټاکل کیږي او حتی د کوچنیو بدلونونو لپاره پکار ده چې د مرکز منظوري واخستل شي. خو په واقعیت کې د مرکز واك کمزوری دی. سیمه اییز ځواکمنان په سیمه اییزو عوایدو واك لري او شخصي نظامي قوتونه لري چې ددې لامل شوی چې یو نا اغېزمن، نا انډوله او نا روڼه سیستم د ولایتونو او سیمو د ادارې لپاره منځ ته راشي.

پکار به وي چې د اصلاحاتو ډېرې هڅې ددې لپاره وشي چې د وزارتونو واکونه ولايتي او سيمه اييزو ادارو ته وسپارل شي او په همدې ترڅ کې د ولايتونو او سيمو په کچه د دولت د ظرفيت لوړوالي او د فعاليتونو انسجام ته زيار وايستل شي. ولايتونه او کلي هغه سيمې دي چې د دولت ډېرې خدمتونه بايد خلکو ته وړاندې شي او په همدې سيمو کې هم د دولت اعتبار لاس ته راتلای شي او هم له لاسه وتلای شي.

همدارنګه پدې راپور کې غوښتنه شوې ده ترڅو کافی مالي سرچينې د ولايتونو او سيمو د مهمو ادارو لپاره برابر شي. اوس مهال د کليو پرمختيايي شورا ګانې چې د سيمه ايیزو خدمتونو د برابرونې ترټولو خپلواکه (او برياليي) جوړښتونه دي، د مالي بسپنو له اړخه روښانه راتلونکی نلري. د بېلګې په توګه د ملي پيوستون پروګرام له لارې ددوی تمويلي سرچينې مخ په ختمېدو دي. په راپور کې خبرتيا ورکړل شوې چې د نورو بسپنو د نشتون په صورت کې به کېدای شي د کليوالو سيمو د اساسي بنسټيزه آسانتياوو او خدمتونو د برابرولو يو اغېزمن ميکانيزم په لږ وخت کې له منځه ولاړ شي.

په همدې ترتيب سره به د ملکي ادارو اصلاحات تر هغې چې افغانان د عامه خدمتونو اړوند خپلې غوښتنې څرګند ې او د هغو د پايلو په هکله د دولت څخه حساب اخستنې توان ترلاسه کوي، په زيات احتمال سره ډېره اغېزه ونلري. ددې لپاره مهمه ده چې پراخ اصلاحات ترسره شي ترڅو خلك پر پارلمان او قضايي ارګانونو ويسا وکړي او مدني ټولنه او د خلکو پنډ غالي په هغه پرېکړو کې برخمن شي چې پر دوی اغېزه لري. پدې هکله حکومت اړتيا لري چې د پراخ او زيات اداري فساد پر ضد کوټلي ګامونه واخلي او پدې توګه هغه عمومي نظر چې فساد پراخ شوی او مخ نيوی يې نه کيږي، رد کړي.

« دا يوه ډېره پېچلې موضوع ده چې وخت به غواړي او د دولت او بسپنه ورکوونکو کلکه ژمنه به ورته پکار وي.» دا مطلب مېرمن مکرجۍ، څرګند کړ او زياته يې کړه چې « *څولارې بايد په يوه وخت کې تعقيب شي چې په لنډه توګه عمومي موخه يې د دولت د اعتبار او حساب ورکونې څخه په ټولو سيمو کې ډاډ ترلاسه کول دي*. دا مهمه ده چې د خلکو او حکومت تر منځ اعتماد موجود وي ترڅو دولت وکولای شي خپل شتون ته ادامه ورکړي.»

په آخره کې په دې راپور کې د تمويل کوونکو مرجع ګانو څخه غوښتنه شوې ترڅو د روښوالي د ښه توب لپاره د دولت د ګامونو څخه ملاتر وکړي لکه د خلکو هڅونه ترڅو د پروژو په پلان جوړونې او پلي کولو کې ګډون وکړي او اړوند معلومات لکه د موخو، لګښتونو او د پروژو د پايلو په هکله معلومات ورته وړاندې شي.

په افغانستان کې د نړيوال بانك د چارو په هکله د لا زياتو معلوماتو لپاره لاندې انټرنټي پاڼه کتلای شی:
http://www.worldbank.org.af